نجات از ماین

دماین پاکولو دموسسی (ATC) دفعالیتونو منعکس کوونکی

AFGHAN TECHNICAL
CONSULTANTS



مین پاکی
DEMINING

رهنما

▨ ولایاتی که بوسیله، ای تی سی از ماین پاکسازی شده اند.

░ ولایاتی که اکنون تیم های ای تی سی در آنها فعالیت مینمایند.

■ ولایاتی که سایر موسسات پاکسازی ماین در آنها مصروف اند.

شماره، نهم
قوس - جدی ۱۳۷۳

نجات از ماین

نشریهء ماهوار انعکاس دهندهء فعالیت های موسسهء مشاورین تخنیکی افغان (ATC)

مؤسس : کفایت الله ابلاغ
سال تأسیس : حمل ١٣٧٣

درین شماره

- د ای تی سی د موسسی د فعالیتونو کلنی راپور
- اشتراک رئیس موسسهء (ATC) در ورکشاپ بین المللی «کشف ماین های ضد پرسونل» در ایتالیا
- د ای تی سی د ماین پاکولو اوومه پروژه
- حوادث انفجار ماین در ماه دسامبر
- د ای تی سی د شهیدانو یادونه

صاحب امتیاز :
موسسهء مشاورین تخنیکی افغان (ATC)

مدیر مسئول : سید احمد فرید علمی

هیأت تحریر : عبدالرووف ویسا و عبدالحنان صافی.

عکاس : عبدالجمیل

کمپوزر : حمیدالله "جلیلی"

نشانی : خانه ٤٥ دی - ٤
اولد جمرود رود - یونیورستی تاون
پشاور - پاکستان
تیلفون : ٤٠٤١٢ و ٤١٣٠٨ - ٥٢١ - ٠٩٢
فکس : ٤٤٧٨٠ - ٥٢١ - ٠٩٢

آدرس پستی : پست بکس ١١٤٩
جی - پی - او - پشاور
پاکستان

بسم الله الرحمن الرحیم

د ای تی سی د موسسی د فعالیتونو کلنی راپور

د ای تی سی د ماین پاکولو د موسسی یوولس گونو پروژو د ۱۹۹٤ کال په ترڅ کی د افغانستان په ځینو ولایتونو کی د ماین پاکولو چاری په خورا بری سره سرته رسولی دی چی له نیکه مرغه دغه فعالیتونه د گرانو هیوادوالو او د یونوچا د دیماینینگ د څانگی د ستاینی وړگنل شوي دی.

دا تکی د یادونی وړ دی چی د موسسی د فعالیتونو د ښه پر مختگ عوامل ددغی موسسی د کارکوونکو رښتنی هڅی او د هغو سیمو دشریفو اوسیدونکو، د جهادی تنظیمونو د محترمو مشرانو، جهادی سیمه ایزو قوماندانانو، د کلیو د مشرانو او د جهادی شورا گانو د غړو د مخلصانه مرستی بلل کیږی.

د ای تی سی د موسسی د رهبری هیئت او اداری کارکوونکی هر یو په خپل وارسره ددغه شان مرستو قدردانی کوی او دهغو عاملینوته د پاك خدای له درباره څخه اجرونه غواړی.

دادی د مینه والو د زیاتومعلوماتو لپاره د اتی تی د موسسی کلنی راپور په لاندی توگه وړاندی کیږی.

د ننگرهار په ولایت

د جلال آباد د ښار او د هغه په شاوخوا سیمو او د ننگرهار ولایت په مختلفو ولسوالیوکی د ماین پاکولو چارو ښه پر مختگ کړیدی.

په دغه ولایت کی د یوه کال په ترڅ کی په مجموعی ټوگه ٤٥١٦١ مربع متره د اوسیدو سیمی، ٢٤٤٨٤ مربع متره د اوبو لگولو ویالی او کانالونه ١١٤٩٤٢ مربع متره لویی لاری او سرکونه، ٧٧٨٥٣٦ مربع متره د کرنی ځمکه او ١٢١٨٢٧٥ مربع متره څرځای چی ټول مساحت یی ٢١٨١٣٩٨ مربع متره کیږی د ماینونو د شته والی څخه پاك کړی او اوس هم زمونږ فعالیت په پراخه پیمانه په دغه ولایت کی دوام لری.

په دغه ولایت کی دیوه کال په موده کی ټول ٧٦ د تانگ ضد ماینونه ١٤٧ دپرسونل ضد ماینونه، ١٦٥١ ناچاودل شوی مهمات او مردکی شند کړل شوی دی او ٦٦٨١٢٨ د مهماتو چری او اوسپنیزی ټوتی راټولی شوی دی. چی ددغو بریالیو فعالیتونو له برکته زمونږ د گرانو هیوادوالو د ژوندانه د چارو په پر مخ بیولوکی یی خورا زیاتی آسانتیاوی مینځ ته راوړی دی.

د ننگرهار په ولایت کی داسی سیمی هم شته چی د هوا څخه ډول ډول ماینونه چی زیات شمیریی ماشومانو د ساعت تیری دوسایلو بنه لری اورول شوی دی بر سیره پر هغو د طیارو او توپونو ځنی ناچاودلی مردکی د ځمکی په سر پر اته دی. ټول دغه شیان تر هغو ماینونو چی تر ځمکه لاندی ښخ شوی دی زمونږ هیوادوال لادیر ځوروی. دغه ماینونه تر بل هر ځای څخه زیات د حصار شاهی د کمپونو په ساحه کښی غورځول شوی وو. په دغو سیموکی چی ۲۳٦٥۰۸۷۳ مربع متره مساحت لری په مجموعی توگه ۳۰٥٤ د انسان ضد ماینونه او ١٦٤٩ ناچاودلی مهمات او ۳۱ د تانك ضد ماینونه شند شوی او هم ٨١٤٧٦٧ او سپنیزی ټوټی راټولی شوی دی.

د پکتیا په ولایت

ددغه ولایت دځاځیو، څمکنو، سید کرم، خوست او دگردیز ښار په مرکزی سیموکی زمونږ دوطنپالو ماین پاکوونکو د زیار په نتیجه کی چی کله کله د نامساعد و امنیتی شرایطو له کبله د هغوی په فعالیتونو کي یو څه خندونه رامنځ ته شوی دی خو سره له دی هم د یوه کال په ترڅ کی ۱۳۷۱۹٤۱ مربع متره څرځای ۱۷٦٥۹۲٤ مربع متره د کرنی ځمکه ۱۳۱۰۳۹ مربع

متره د اوسیدو سیمه ۲۸٤۵۹۷ مربع متره سرکونه او دوګړو دتګ راتګ لاری، ۳۳۸۵ مربع متره کانالونه او داوبوویالی د ماینونو دشته والی څخه پاك شوی او دهغه ځای د خلکو د استفادی وړګرزیدلی دی. ددغو فعالیتونو په نتیجه کی۲۷۳ د تانګ ضد ماینونه ۲٤۷۵ د پرسونل ضد ماینونه او ٥٦١ ناچاودل شوی مردکی له منځه ورل شوی او ۱۱٦۷۸۱۰ اوسپنیزی ټوټی راټولی شوی دی.

د پروان په ولایت

ددغه ولایت د بګرام، جبل السراج او سالنګ په ولسوالیو، د چاریکار د ښار په مرکز او د هغه په ښاوخوا سیموکی په مجموعی توګه ۸۱۳۰۲ مربع متره څرځای، ۲۲۷۸۳۱ مربع متره د کرنی ځمکه ۲۱۰٦۸ مربع متره د استوګنی سیمه، ۳۸۸۱ مربع متره سرکونه او لاری او ۲۷۱ مربع متره کانال او ویالی لتول شوی او د ماینو څخه پاکی شوی دی.

په پورتنی یادشوی مساحت کی ۱۱ دتانګ ضدماینونه، ۱۸۱٤ د پرسونل ضد ماینونه، ٥٤٩ ناچاودلی مهمات شند شوی دی او ۱۷۳٤۲۲۰ د اوسپنیزی ټوټی راټولی شوی دی.



دا یوه کړی پلاستیکی TC6 دوله د تانګ ضد ماین دی چی د ATC دیو تن ماین پاکوونکی لخوا کشف او د چاودیدونکی مواد په ایښبودو سره یی هغه شندولو ته تیار کړ شوی دی.

د کابل په ولایت

د کابل د ښار په اړوندو ولسوالیو او سیموکی ۱۰ دانی د تانګ ضد ماینونه، ۳۱۲۲ دانی د پرسونل ضد ماینونه ۹٤٥٦ ناچاودل مهمات او ۱۰۹۱۵۳۷ د مردکیو چری او اوسپنیزی ټوټی له ۲۱٤۹۱ مربع متره د اوبو د ویالو او کانالونونه، د ۲٤۲۵۳٦ مربع متره د اوسیدلو سیمو د ۷۳۰٦۲۲مربع متره د کرنی د ځمکو او د ۹۹۹۹۸۳ مربع متره څرځای څخه کشف او له منځه وړل شوی دی.

دغزنی په ولایت

د غزنی د ولایت د مرکز او شاواخوا سیموکی د دوهمی او اتمی پروژو ماین پاکوونکو ۲۲۳۸۲۳ مربع متره څرځای، ۷۳۵٦۹٦ مربع متره د کرنی ځمکه، ٥٥۱٤ مربع متره د اوسیدلو سیمه، ٦۳۲۷٦ مربع متره داوبو کانالونه او ویالی چی له دیری مودی راهیسی استفاده نه ورڅخه کیده د ماینونه څخه پاکی کړی دی چی اوس د هغی ځای اوسیدونکی په دادمنه توګه کار ورځنی اخلی.

ددغو مشمرو فعالیتونو په نتیجه کی ٦ د تانګ ضد ماینونه،

۷۵۰ د انسان ضد ماینونه، ۱۰۳ ناچاودلی مهمات، ۱٦٤٥۷۳ دانی د مهماتو چری او اوسپنیزی توتی له مینځه وړل شوی دی.

د لوگر په ولایت

ددغه ولایت د میرنیو اوسیدونکو د همکاریو او زموږ د وطن پالو ماین پاکوونکو د بی ساری هڅو په نتیجه کی د لوگر د ولایت په مرکز او ځینو والسوالیو کی ۱۰۰۳۷۳ مربع متره څرځای، ۳۹۲۰۹۱ مربع متره د کرنی ځمکه ۱۳۷٦۷۱ مربع متره د اوسیدو سیمه، ٦۸۳۸۹ مربع متره کانال او داوبو لگولو ویالی چه د څوکالو څخه راپدی خوا شری پرتی وی ۹ دانی د تانك ضد ماینونه، ۲۸۷ د پرسونل ضد ماینونه، ٤۷۳ ناچاودلو مهماتو دله منځه ورلو په نتیجه کی بیا احیا او د استفادی وړ گرځیدلی دی. پورتنی ذکر شوی سیمو کی ۳٥۳۰٦۳ دانی اوسپنیزنی ټوټی هم راتولی شوی دی.

د وردکو په ولایت

په یوه کمه موده کی چه د اتی سی سی د ماین پاکولو تیمونه د وردکو د ولایت په ځینی سیمو کی په ماین پاکولو بوخت وو ۱۲٤۱٦۷ مربع متره د کرنی ځمکه او ۱٥۳۳۲ مربع متره د اوسیدو سیمه یی د یوه د تانك ضد ماین، ۸٤ د پرسونل ضد ماینونو او ۹۱ ناچاودلو مهماتو له وجود څخه پاکه کړی دی. او هم یی ٤۰۳۹۹ اوسپنیزی د مهماتو چری راټولی کری دی.

د کاپیسا په ولایت

د ای تی سی سر تیرو اوزره وروماین پاکوونکو تیرکال د کاپیسا د ولایت په مرکز او د کوهستان د ولسوالی مربوطو سیمو کی ۲۸ د پرسونل ضد ماینونه او ۱۱۲ ناچاودلی مهمات کشف او شند کری دی همداراز د خپلو ماین پاکولو د فعالیتونو په ترڅ کی یی ۱۷۹۱٦٦ اوسپنیزی توتی راتولی کری دی.

په هغو سیمو کی چه ماینونه یی شند کری شوی ۱٦۲۷۰ مربع متره د کرنی ځمکه، ۱۰۷۷٦ مربع متره د هستوگنی سیمه او ۲٦۸۸٤ مربع متر ویالی هم شاملی دی.

د لغمان په ولایت

د ای تی سی د موسسی تیمونه یو وار بیا د لغمان د ولایت د خلکو د ستونزو د لری کولو د پاره هلته ولیږل شول چی له نیکه مرغه ددغی انسانی وظیفی په سرته رسولو کی بریالی شول. زموږ با ایمانه او زړه ورو ماین پاکوونکو د لغمان په ولایت کی ۱٦۲۰٥ مربع متره څرځای او ۱۲٥۲۹ مربع متره د اوبو ویالی او کانالونه پاك کرل تر څو د هغه ځای شریف خلك په اطمینان سره خپل د ژوند چاری تر سره کری. ددغه بشر دوستانه کار په نتیجه کی ۲۹ د پرسونل ضد ماینونه ٤ ناچاودلی مهمات له منځه یووړل شول او ٥۱۷٥ اوسپنیزی ټوتی هم راټولی شوی.

لنده دا چی په دغو نهو ولایتونو کی ٤۱۷ د تانك ضد ماینونه، ۱۱۸۱۷ د پرسونل ضد ماینونه او ۱٤٦٤۹ ناچاودلی مهمات په بشپړه توگه شنډ کری شوی او همدارنگه ٦۲۱۸۸۳۸ دانی د مهماتو چری هم راټولی شوی دی. په پورتنیو ولایتونو کی په مجموعی توگه ۲۷٦٦۲۷۷٥ مربع متره څر ځای چی د هغی له جملی څخه ۲۳٦٥۰۸۷۳ مربع متره د جگړی دگراو متباقی ماین فیلد دی، ٤۷۷۱۱۳۷ مربع متره د کرنی ځمکه، ٦۰۹۰۹۷ مربع متره د استوگنی سیمه، ٤۰۳٤۲۰ مربع متره سرك او لاری، ۲۲۰۷۰۹ مربع متره کانالونه او ویالی پاکی شوی دی.

د لوی خدای (ج) له درباری څخه هیله من یو چی مونږ ته د خپل گران هیواد د پاکی لمنی او غیږی د پاکولو په لاره کی د هغو خطرناکو موادو څخه چی زمونږ د هیوادوالو ورونو، خویندو، میندو، پلارونو او خورو کوچنیانو ژوند هره شیبه د خطر سره مخامخ کوی توفیق را په برخه کړی.

مونږ د خدای په هیله ملا کلکه تړلی ده چی تر هغه وخته پوری چی یو ماین هم زمونږ په گران هیواد افغانستان کی پاتی شوی وی دغه انسانی او اسلامی دنده نه پریږدو.

اشتراك رئیس موسسهء (ATC) در ورکشاپ بین المللی «کشف ماین های ضد پرسونل» در ایتالیا

محترم کفایت الله ابلاغ رئیس ادارهء مشاورین تخنیکی افغان (ATC) در ورکشاپ «کشف ماین های ضد پرسونل» که در شهر اسپرا در ایتالیا برگزار گردیده بود اشتراك ورزید.

در این ورکشاپ که از تاریخ ۲۸ تا ۳۰ ماه نوامبر ادامه یافت از ٤۳ نماینده به شمول رؤسای موسسات پاکسازی ماین، متخصصین نظامی، مشاورین تخنیکی و کارمندان عالیرتبه سازمان ملل متحد، جامعهء اروپایی و فابریکه های تولید کننده وسایل کشف ماین دعوت به عمل آمده بود. از آن جمله ۲٦ تن، بر پایه برنامهء گرداننده گان سیمینار، سخنرانی نمودند و موضوعات ارزشمند را با مدعوین در میان نهادند.

این سیمینار در حقیقت به ادامهء گرد هم آیی پیشین شهر استکهولم سویدن (۸ تا ۱۰ جون سال ۱۹۹٤) که زیر عنوان «کشف و انهدام ماین» دایر شده بود، برگزار گردید بود.

مانند ورکشاپ قبلی، رئیس ادارهء مشاورین تخنیکی افغان محترم کفایت الله ابلاغ در سیمینار اخیر نیز ضمن ایراد بیانیهء خویش موضوعات زیر را مورد بررسی قرار دادند :

- معرفی ادارهء مشاورین تخنیکی افغان.
- تکنالوجی پاکسازی ماین در افغانستان.
- دشواری های بزرگ و عمدهء پاکسازی ماین در افغانستان و راه های بیرون رفت از آن.
- نیازمندی های آینده در زمینه سامان و ابزار ماین پاکی.

* برای مزید معلومات خواننده گان ارجمند نکاتی چند از بیانیهء محترم ابلاغ را در اینجا می آوریم :

«ادارهء مشاورین تخنیکی افغان یا ای تی سی که بزرگترین موسسهء پاکسازی ماین در گیتی بشمار میرود، در سال ۱۹۸۹ پا به عرصهء وجود گذاشت. این اداره اکنون بیش از ۱۲۰۰ تن کارمند دارد و در ۱۵ ولایت شمالی، مرکزی، شرقی و جنوب شرقی افغانستان به فعالیت مبادرت ورزیده است.

در حال حاضر دفتر هم آهنگ کنندهء کمك های بشری ملل متحد (یونوچا) و جامعهء اروپایی تمویل این موسسه را بدوش دارند.»

سپس رئیس ATC به موانع بزرگ در راه ماین پاکی در افغانستان اشاره نموده گفتند :

«تجارب پنج سالهء ما در ساحهء ماین پاکی دشواری های عمده در مسیر ماین پاکی را این چنین بر ملا میسازد :

*** پارچه های فلزی :**

تکنالوجی موجودهء پاکسازی ماین ایجاب میکند که با هر پارچهء فلز مانند یك ماین برخورد صورت گیرد که این امر باعث ضیاع وقت و نیروی ماین پاکان ما میگردد. زمانی میتوان به عمق این دشواری پی برد که بدانیم که از هر ۲۰۰ پارچهء فلزی در میدان های نبرد تنها یکی آن ماین یا مهمات منفجر ناشده بوده میتواند.

*** نباتات :**

موجودیت نباتات بزرگ و سبزه زار ها مشکل عمده در راه پاکسازی مناطق از ماین بشمارمیرود. سبزه ها و بته ها باید پیش از ماین پاکی از میان برداشته شوند. اما این گیاهان بخاطریکه سبز اند سوختانده نمی شوند واز آن جائیکه بعضاً ضخیم هستند به آسانی قطع شده نمی توانند بناءً از بین بردن این نباتات مشکل و اکثراً خطرناك است.

*** فلزات موجود در ترکیب قشر زمین و تعمیرات.**

*** ماین های دفن شده در عمق زیاد زمین.**

*** سطح سخت زمین های ماین گذاری شده.**

*** تلك های شیطانی و ماین های رفع فشار (Pressure Release) :**

یکی از مادل های ماین ضد پرسونل که در افغانستان به

تعداد زیاد فرش گردیده ماین MS3 است که به مجرد دور شدن خاك از بالای آن انفجار میکند. موجودیت اینگونه ماین ها و همچنان تلك های شیطانی که متشکل از یك سیستم مغلق ماین ها میباشد، خطری بزرگ محسوب میگردد.

یگانه راه تفکیك ماین های MS3 از سایر انواع ماین برهنه ساختن ماین و امتحان نمودن صفحهء فشار آن میباشد.

در آن زمان اگرماین از نوع رفع فشار باشد خیلی دیر خواهد بود...

*** پایه ها و سیم های بزرگ برق با ولتاژ بلند :**

در کشور ما عموماً اطراف پایه های برق ماین گذاری شده است. ولتاژ بلند و ساحهء مقناطیسی سیم های برق بالای ماین پال ها تاثیر منفی دارد و تثبیت محل دقیق ماین را ناممکن میسازد.

*** پاکسازی محلات رهایشی و منازل مسکونی :**

بسیاری خانه ها و دهکده ها پس از ماین گذاری ویران شده اند. جستجوی ماین در میان این ویرانه ها که بعضاً بار دوم و حتی سوم در آنها ماین فرش گردیده است بسیار خطرناك و دشواراست.

*** ماین های پلاستیکی:**

نسبت موجودیت مقدار بسیار ناچیز فلز در ساختمان آنها کشف این نوع ماین ها با وسایل موجودهء ما بسیار مشکل است. بسیاری از انواع ماین های ضد تانك از این جمله اند.»

رئیس ادارهء مشاورین تخنیکي افغان به نیازمندی های کشور در زمینه افزار ماین پاکی اشاره نموده ادامه دادند :

«ماین پال های آینده ما باید بتوانند ماین ها را در اعماق بیشتر زمین کشف کنند.

- باید پارچه های فلز را از ماین تفکیك نموده بتوانند.
- باید سبك و دارای ساختمان ساده باشند و در هر نوع اقلیم و اراضی کار کرده بتوانند.
- ولتاژ بلند برق بر آنها تاثیر منفی وارد نکند.
- ماین پال ها طوری ساخته شوند که اعضای تیم های ماین پاکی مجبور به حفر تمام کشتزار ماین برای یافتن ماین نباشند.»

محترم کفایت الله ابلاغ در اخیر از عطف توجه شاملین ورکشاپ به پروسهء پاك سازی ماین در افغانستان اظهار شکران نموده و در این زمینه از احساسات نیك آقای هالگر ماینل بطور خاص یاد آور شدند.

هالگر ماینل Holger Meinel رئیس موسسه داسا DASA- جرمنی- که در ورکشاپ استکهولم گردانند گی یك بخش سیمینار را بدوش داشت، باربار از موسسهء مشاورین تخنیکی افغان بحیث یك نمونهء بارز فعالیت موثر پاکسازی ماین در جهان یاد نمود. نامبرده گفتار خویش را با سلاید هایی که از روی سالنمای سال ۱۹۹٤ موسسه ATC تهیه نموده بود تقویت میکرد.

هالگر ماینل از فعالیت ها کارکنان موسسهء ATC با قدردانی یاد نموده و اضافه کرد که فداکاری ها و جان بازی های ایشان در شرایط دشوار کنونی افغانستان فراموش ناشدنی است.

بعد از آنکه ورکشاپ با موفقیت بپایان رسید، فیصله های مهم و حیاتی برای برداشتن گام های موثر در راه کمتر ساختن خطرماین ها در جهان اتخاذ شد.

اینك فشردهء این نتایج را که رسماً از طرف «مرکز تحقیقات مشترك» (Joint Research Center)، گرداننده و میزبان این ورکشاپ، منتشر گردیده است خدمت شما تقدیم مینمائیم :

ورکشاپ درمورد اکتشاف محل ماین های ضد پرسونل،اسپرا، ۲۸-۳۰ نومبر۱۹۹٤

هدف از تدویر این ورکشاپ بدست آوردن یك نظر فشرده درباب فهم رد یابی ماین های ضدپرسونل، یعنی ماین های کوچك پلاستیکی در حالات ختم زد و خورد ها بود.

علاوه بر درخواست هیات مدیرهء مرکز تحقیقاتی مشترك وزارت تعلیم وتربیه، ساینس تحقیق وتکنالوجی [illegible] ازین ورکشاپ IRSA (Institute For Remote Sensing Applications) ازطریق یك قرار داد مطالعاتی حمایت نمود.

این ورکشاپ تخنیکی که صرف بریك جنبه پرابلم جهانی متمرکزبوده وعبارت ازردیابی وتثبیت محل ماین های ضد پرسونل می باشد، باید بحیث ادامه ورکشاپ ستاکهولم تلقی گردد که از سوی موسسه تحقیقاتی سویدن (FOA) تشکیل شده بود.

از آنجائیکه یکی از شرایط برای مطالعه همانا تدویر ورکشاپ تخنیکی قبل از پایان یافتن سال ۱۹۹٤ بود از آنرو انتخاب اشتراک کننده گان وتجدید نظر برسخنرانان برمعلومات مورد دسترس (مرکزتحیقات مشترک)، به تماس ها وسفارشات موجود وانتباهاتی که از ورکشاپ استاکهولم بدست آمده بود اتکاء داشت.

فشرده مطالب ورکشاپ :

همه سخنرانان راپور های سازنده تجدید نظرشده برمطالب معینه تهیه دیده و تصویر واضحی از پرابلم های موجود، وضع انکشاف تکنالوجی های مختلف کشف ماین و مفکوره‌ء یك تحقیق جامع و مرتبط اروپائی وطرح انکشافی را به سامعین ارائه دادند.

این اکتشافات تخنیکی راهروی موازین سه گانه مختلف ذیل میتوان خلاصه نمود :

۱- همه اشتراک کننده گان بر ضرورت عاجل آغاز نقشه گیری ساحات ماین گزاری شده بخاطر عملیات پاکسازی ماین و / یا پروژه بشری توافق کردند. درین مورد باید در جهت آغاز یك (مرکز ارقام جغرافیائی) با نقشه های دقیق جغرافیائی و توپوگرافی و نقشه های استفاده‌ء زمینی اقدام بعمل آید. نخستین منشأ اطلاعات برای تأسیس این مرکز ارقام جغرافیائی همانا ارقام مربوطه‌ء فضائی، یعنی SPOT، LANDSTAT، ERS1، ERS2 شمرده میشود. همچنان نظر داده شد تااز ارقام معروفی که قبل از هرگونه درگیری ها جمع آوری شده بود استفاده بعمل آید تا به اینصورت وضع واقعی باسابق مقایسه شده وهر تغیر به خاطر بدست آوردن شاخص های ساحات و مناطق که بالقوه ماین دار شده باشد مورد تحقیق قرار گیرد.

همین مرکز جمع آوری معلومات باید به خاطر تهیه تاسك های رد یابی ماین بوسیله‌ء سیستم های وسائل پاکسازی ماین توسط دست یا ماشین علائم محیطی را نیز دربرداشته باشد. همچنان، این مرکز باید شامل معلوماتی در مورد حوادث، وقایع مجروحیت ودانستنی هایی از مردم محل نیز باشد.

این مرکز معلومات همواره باید در دسترس گروه های بشر دوست (مثلاً موسسه غیردولتی) باشد و همچنان گروپ های کشف و پاکسازی بتواند از فاصله دور با آن تماس بگیرند.

۲- اقدام قبلی اولاً از ست های آمار وارقام تصاویر فضائی استفاده خواهند کرد، بعداً، نقشه های بدست آمده به ده هامتر تحلیل فضائی منحصر خواهد ماند. بهر حال، این تحلیل برای فعالیت های پاکسازی ماین قطعاً کافی نیست. برای اکتشاف ساحات ماین گزاری شده سفارش گردیده تا، درصورت امکانات سیاسی، فعالیت های نقشه برداری فضائی به سطح بلند صورت پذیرد. هیچکدام حل منفرد حسی ممکن دیده نشده بلکه امتزاج انواع مختلف حسی میسراست .این سفارشات حسی شامل تحلیل عالی، قطب سنج، رادار روزنه دار مصنوعی دارای قوه‌ء زیاد، ردیاب های اشعه مادون قرمز حرارتی با قدرت درون بینی وکمره های چشمی با تحلیل بلند می باشد. این علائم فضائی جمع آوری شده باید به یك مرکز مربوط زمینی انتقال یابد تا تحلیل خود کار ارقام به عمل آید. دررابطه باشرایط محلی منطقه سنسرهای دیگر (مثلاً رادار های اندازه گیری امواج، رادیو میترهای امواج بلند، سیستم های تشعشعات لایزر و طیف سنج تصویر گیری پیشرفته) ممکن است مهم و حتمی تلقی شود. این فعالیت های شناخت دقیق فضایی به دانستنی های دقیق زمین های دارای ماین، نقشه های اکتشاف تحلیل عالی و علائم تحلیل محیطی منتج خواهد شد.

۳- سطح سومی و سطح بلند ترین تحلیل، شناخت و دانستن محل همه ماین های انفرادی، تشخیص ماین از اشیای طبیعی و غیر خطرناك و درجه بندی ماین ها است. تکنیك های مختلف تکمیل کننده‌ء روش های موجود (مثلاً سگ ها و ماین دیتکتورها) نیز مورد بحث قرار گرفت. این تکنیك ها را میتوان به سه نوع عملیات دسته بندی نمود : پاکسازی با دست، سیستم های سیار سوار بر عراده و وسایل پرواز در ارتفاع کم که از راه دور کنترول میشوند. بخاطر باید داشت که نماینده گان موسساتی که در ساحات ماین گزاری شده کار می کنند بر استفاده از وسایل ارزان قیمت، ووسایلی که به آسانی استعمال و نگهداری میشوند و راه های متفاوت حل این دشواری را میسر می سازند تاکید ورزیدند. ولی به هر صورت، در عین حال واضح گردید که پرابلم ساحات ماین گذاری شده بحدی مهیب است که هیچ تکنیك دستی قادر نیست تا نتایج چشمگیری نه در کوتاه مدت و نه به صورت اقتصادی بدست دهد.

به منظور پیشرفت مزید در مباحثات این طرح پیشنهاد شد

که یك ساحهء آزمایشی مشترك تأسیس گردد تا اشیای معیاری (مثلاً هدف های غیر انفجاری پلاستیکی دارای مشخصات فزیکی شبیه ماین های پلاستیکی ضد پرسونل) در آن جابجا شود. هرگروپ ذیعلاقه دعوت خواهد شد تا تجهیزاتش را به این ساحهء آورده و آزمایش مربوطه را جهت تشخیص و تعیین محل این اشیای معیاری عملی سازد. سپس نتایج با هم مقایسه گردیده و بطور انتقادی مورد بحث قرار خواهد گرفت. با اتکا به نتایج این پروژهء آزمایشی یك پروگرام اختصاصی انکشافی آغاز خواهد یافت تا به یك نمایش در ساحهء ماین گزاری شده منتج گردد. موازی با آن یك برنامه تحقیقاتی شروع خواهد شد تا تکنیك های جدید از قبیل رادار تصویر گیرنده سه بعُدی رخنه کننده در زمین ، سنسر های مربوط به شیمی حیاتی و اشعهء تحریك کننده لایزر را مورد آزمایش قرار دهد. همهء این ابتکار ها باید بزودی ممکنه آغاز یافته آزمایش تجربوی در سال ۱۹۹۶ صورت گرفته و نمایش یاد شده قبل از پایان سال ۱۹۹۸ عملی شود. اشتراك کننده گان ملل متحد و افغانستان درین سمینار اظهار داشتند که برای میزبانی هر تکنیك اثبات یافته به زودی هرچه ممکن در پروژه های جاری ماین یابی و پاکسازی ماین حاضر خواهند بود.

همه اشتراك کننده گانی که در قلمرو ماین یابی کار می کنند ضرورت عاجل خویش را به یك مرکز جمع آوری معلومات در مورد ماین، که شامل معلومات در باره مشخصات ماین، معلومات در مورد استفاده و بکار بردن ماین، عوامل محیطی و غیره باشد تصدیق نمودند.

این ورکشاپ با بیانیه های انفرادي اشتراك کننده گان در مورد علاقه مندي و آماده گی در اشتراك مساعی با (مرکز مشترك پژوهشی) جهت اکمال مطالعهء کنونی در مورد ماین یابی و تثبیت محل ماین و انسجام مساعی در ساحهء مهم، عاجل و غامض پاکسازی ماین های ضد پرسونل خاتمه یافت. به هر حال، به منظور حمایت مزید از انکشافات قبلاً آغاز یافته بر ضرورت عاجل اهدای منابع پولی تاکید بعمل آمد.

د ای تی سی د ماین پاکولو اوومه پروژه

د ای تی سی اوومه سیمه ایزه څانگه د ۱۹۹۲ میلادی کال د فبروری په میاشت کی د گران هیواد د عینی شرایطو او د هیواد والو د مشکلاتو په پام کی نیولو سره د ای تی سی د موسسی د پراختیایی پلانونو سره سم ددغی موسسی په چوکات کی جوړه او تخار ولایت ته د ځمکی له لاری واستول شو دغه پروژه پس له یوی هفتی د پښنی منزل تخار ولایت ته ورسید او د تخار په ولایت کښنی یی په عملی ټوگه د ماینونو د موندلو او شندولو په کار پیل وکړ.

ددغی پروژی با احساسه، با ایمانه او په وطن مین ماین پاکوونکی د فبروری د اتمی نیتی نه د ۱۹۹۳ کال د جون دمیاشتی تر اتمی نیتی پوری په نه ستړیکیدوونکی کار او زیار سره د تخار د ولایت د رستاق، فرخار، کلفگان په ولسوالیو اود چشمه شیر په علاقه داری او د تخار د مرکز د باغ ذخیره په ماین لرونکو سیمو کی د قدر ور خدمتونه تر سره کړی دی.

په پورتنی یاده شوی موده کی ۲۶۸۱۸۶ مربع متره د کرنی ځمکی ۳۲۶۰ مربع متره د استوگنی سیمی ۱۰۳۵۳ مربع متره لوی لاری او سرکونه، ۱۱۷۷۰ مربع متره څرځای او ۴۱۶۰۹۱ مربع متره د اوبو ویالی او کانالونه چی پخوا د MCPA د سروی کوونکو تیمونو له خوا سروی شوی وو ولټول او د ماینونو څخه یی پاك کړل.

ددغو بریالیو عملیاتو په ترڅ کی ټول ۲۹۱۵ د وگړو ضد ماینونه او ناچاودل شوی مهمات رابرسیره او له منځه یوړل شوی دی.

د اومی پروژی رښتینو، خدمتگار او سر ښندونکی ماین پاکوونکو په خورا متانت، ایمان داری او فداکاری سره خپله ایمانی او وجدانی ډنه دوطن دلمنی او غیږی د پاکولو په کار کی د

نورو موسسو په څنګ کی په ښه توګه سرته ورسوله اود هغه ولایت شریف هیوادوال یی د ماینونو د خطر څخه وژغورل.

د تخار د ولایت په ولسوالیو او نورو سیموکی د ماین پاکولو کار د هغه ځای دخلکو د ژوندانه په اقتصادي او اجتماعی چارو کی ګټه وره او مثبته اغیزه کړی ده.

کله چی هلته د پلان سره سم کارونه سرته ورسیدل د ای تی سی موسسی رهبری پریکه وکړه چه او مه سیمه ایزه څانګه دی د کاپیسا ولایت ته ولیږدول شی. د لارښوونی سره سم د ۱۹۹۳ میلادی کال د جون د میاشتی په لومړی لسیزه کی دغه پروژه کاپیسا ته راغله.

وروسته له دی چی د پروژی مسؤلو کسانو د کاپیسا ولایت د رهبری د هیأت، دسیمه ایز جهادی قوماندانانو او د کلو د مخورو او سپین ږیرو سره د ای تی سی د پلاتونو او دماین پاکی خدمتونه په اړوند خبری وکړی د شاندارو مراسمو په ترڅ کی یی د کلام الله مجید د ختم وروسته په کار پیل وکړ.

څرنګه چی په دغه ولایت کی د ماین پاکولو دریم، پنځم، اووم او یوولسم لمبر تیمونو د اوومی پروژی په تشکیل کی کار کاوه نو دورکړل شوی پروګرام په پام کی نیولو سره پورتینو تیمونو په ګډه سره د کاپیسا د ولایت ماین لرونکی سیمی له یوه پلوه په دیر ځیر سره ولتولی او په نتیجه کی ټوله ۱۹۹۳۹۳ مربع متره سیمه چی په هغه کی ۱۶۲۷۳۸ مربع متره د کرنی ځمکه ۱۶۹۷٤ مربع متره د هستوګنی سیمه، ٦٤٦٩ مربع متره لاری او سرکونه او ۱۳۲۱۲ مربع متره د اوبو ویالی او کانالونه شامل دی د ۱۸۷ دانی د وګرو ضد ماینونو او ۲۵۷ ناچاودلی مهماتو له شته والی څخه پاکه کره چی دا بریالیتوب د هغو سیمو د خلکو د دادګیرنی او خوشحالی سبب شوه ځکه چی ددوی د سوله ایزو چارو او کروورو دادمنه زمینه برابر شوی ده.

هغو کورنیو چه ددیری مودی راهیسی کورونو، کرهندو او ویالو څخه د استفادی څخه بی برخی پاتی شوی وو دهغو سیمو د پاکړلو سره یی جوخت خپلی دندی یی له سره پیل کړی.

د هوا د سربښت له کبله دغه پروژه د۱۹۹٤ کال د فبروری په میاشت کی د طرح شوی پلان سره سم دننګرهار ولایت دغنی خیلو ولسوالی ته وخوځیده او هلته یی دغنی خیلو د ولسوالی د مرکزی سیمو او وروسته یی د اچین ولسوالی، دنازیانو سیمه، درو‌داتو، پچیرآ ګام او د بهسودو د ولسوالیو د ماینونو د کروندو په پاکولو لاس پوری کړ.

ددغی پروژی ماین پاکوونکودهغو سیمو لوری و ژوری پټی چی ټول مساحت یی ۲۲٥٤۲۲ مربع متره کیږی د ماینونو د شته والی او وروستو د ترخو پیسو د خطر څخه وژغورل.

دغه سیمی د کرنی ځمکی، لاری، څرځایونه او ویالی چی د ماینونو د موجودیت له کبله داستفادی څخه بهر پاتی شوی وی له نیکه مرغه د اتی. تی. سی د وطن پالو ماین پاکوونکو په پاکولو سونو او دخولو د تویولو په نتیجه کی د ۱۳٦ ماینونو او ناچاودلی مهماتو په شندولو سره د استفادی وړ وګرځیدی.

د همدی کال د می په میاشت کی د هوا د خورا زیاتی ګرمی له امله دغه پروژه د خپلو ټولو ځواکونو سره د سروبی د ولایت سیمی ته راستنه شوه. د ای. تی. سی د موسسی د سالمو پرنسیبونو په پیروی سره ددغی پروژی مسؤلینو ړومبی تر هر څه د هغه ځای د ولسوالی چارواکو سره له نژدی څخه وکتل او د ای. تی. سی د ژغورونکی پلاتونو په اړوند یی خبری اتری ورسره وکړی چی د هغی ولسوالی مسؤلینو او د سیمی جهادی مشرانو په دیر ورین تندی سره دهغوی هر کلی وکړ او د هر راز همکاری ژمنه یی وکړه.

وروسته تر هغه د پروژی کارکوونکو د کار د پیل پلان طرح او خپل کاربی شروع کړ چی لا تر اوسه پوری دوام لری.

د کار د پیل څخه د سږ کال د نوامبر د میاشتی تر پای پوری دغه لاندی سیمی د سروبی په ولسوالی کی پاکی شوی دی :

۱- د آهنګرانو کلی

۲- دغندی کلا

په پورتنیو دووکلیوکی تولی ۳۳ ساحی په همدی موده کی د ماینونو څخه پاکی شوی دی.

د اوومی پروژی ماین پاکوونکو د خلکو د سوکاله ژوند په برابرولو کی د پاملرنی وړ ونده اخستی ده چی د هغی له برکته ٥۸٥۳٦ مربع متره د کرنی ځمکه ۱۳٦۸۳۲ مربع متره د اوسیدو سیمی او ٤۰٤۰۲ مربع متره څرځایونه د ماینونو څخه پاك شوی دی. ددغو عملیاتو په ترڅ کی ۱۲۱۷ دانی د

پرسونل ضد ماینونه او ۱۲۹ ناچاودل شوی مهمات موندل شوی او له منځه ورل شوی دی.

دغه پروژه هم د نورو پروژو په شان یو صحی مرکز لری چی په هغه کی د ۱۹۹٤ میلادی کال د لومړیو ورځو څخه تر اوسه ۱۹۸۹ ناروغان او یوولس ټپی کسان چه د ماین د چاودنی که کبله ټپی شوی او د ای. تی. سی د یوولس ګونو پروژی منسوبین و وتداوی شوی دی.

دغه صحی مرکز چه د کابل ننګرهار پرلویه لاره دعمومی سرك تر څنګ موقعیت لری تل یی هڅه کړی ده چی د ماین پاکولو د ټولو موسسو OMAR، MCPA، MDC او هالوترست د کارمندانو سره لازمه طبی عاجلی مرستی وکړی.

حوادث انفجار ماین در ماه دسامبر

در ماه دسامبر امسال شاهد چهار حادثه انفجار ماین درتیم های ای تی سی بودیم که در نتیجهء این حادثات یکتن از بهترین ماین پاکان ما به شهادت رسید و پنج تن دیگر زخم برداشتند.

۳ دسامبر، ساعت ٤٥ : ۹ پیش از ظهر به وقت محلی، دهکدهء قلعهء بلند، ولسوالی بگرام ولایت پروان :

محمد حسن فرزند محمد امین ماین پاك تیم چهارم ای تی سی در حالیکه ماین پال بدست داشت برای یافتن ماین تلاش میورزید. در این زمان ماین پال اوبا زنگ مخصوص موجودیت یك فلز را هوشدار داد. محمد حسن به خاطر نشانی کردن محل مشکوك به زمین نشسته و میخواست مارکر ویژه ماین پاکی را در نزدیکی منبع آواز بر زمین بگذارد اما تعادل خود را از دست داد و بالای ماین ضد پرسونل غلطید. تکان شدید و وحشتناك ناشی از انفجار ماین زخم های عمیقی به سرو دست های محمد حسن وارد کرد و زنده گی پر افتخار این خدمتگار راستین افغانستان عزیز را به پایان آورد.

٤ دسامبر، ساعت ٤٥ : ۹ بامداد به وقت افغانستان، دهکدهء گجرخیل، ولسوالی بگرام ولایت پروان :

مبارك شاه پسر عبدالرووف ماین پاك تیم هفدهم ای تی سی برای برهنه ساختن یك ماین ضد انسان PMN2 مصروف سیخ زنی بود. اما بر اثر تماس برچهء او با ماین انفجار صورت گرفت. در این حادثه چشمان مبارك شاه به سختی آسیب دیده است. نامبره اکنون در پشاور تحت تداوی قرار دارد.

٤ دسامبر ساعت یازده بجه قبل از ظهر، قریهء ملا عمر، ولسوالی خاك جبار ولایت کابل :

محمد طاووس فرزند الله محمد ماین پاك تیم شانزده در اثنای سیخ زنی بر اثر انفجار یك ماین ضد انسان PMN2 به سختی مجروح شد. متأسفانه در چشم چپ او جراحت عمیقتر دیده می شود.

حاجی محمد سکشن لیدر این تیم نیز که در نزدیکی محمد طاووس از اعضای سکشن خود وارسی می نمود بر اثر اصابت سنگریزه ها زخم های بسیار سطحی بر داشته است.

۲۰ دسامبر ساعت ۲۰ : ۱۰ صبح به وقت افغانستان، دهکدهء بالاغیل، حومهء شهر چاریکار ولایت پروان :

در اثر انفجار یك ماین ضد پرسونل دو تن از ماین پاکان تیم هفتم ای تی سی به نام های زلمی ولد حضرت شاه و گل احمد فرزند آغا محمد مجروح شدند.

گل احمد در یکی از ماین زار های سروی شدهء چاریکار مصروف سیخ زنی بود و زلمی ماین پاك عضو پارتی نامبرده از فاصلهء نه چندان دور او را مراقبت و رهنمایی مینمود. بر اثر این حادثه چشمان، دست ها و روی گل احمد زخم های بزرگ برداشته اند اما وضع زلمی نسبتاً بهتر است.

د ای تی سی د شهیدانو یادونه

شهید محمد حسن :

ماین پاکوونکی محمد حسن د محمد امین زوی په کال ۱۳٤۲هـ شمسی د کونړونو د ولایت د دره٫ پیچ د ولسوالی د مانوګی د علاقه داری د شمور په کلی کی په یوه بزګره کورنی کسی زیږیدلی دی.

د دوی د کورنی د ژوندانه حالات د یو لر اقتصادی ستونزو له کبله داسی یوه بڼه درلوده چی محمد حسن ونشو کولای په مدرسه او مکتب کی زده کړه وکړی نو همدا وجه وه چی د سواد نعمت څخه بی برخی پاتی شو.

کله چی محمد حسن د بزګری د کارونو او نوری غریبی وس او توان پیدا کړ په خواری یی شروع وکړ ترڅو وشی کولای د خپل پلار سره د معیشت د تأمین په برخه کښنی مرسته وکړی.

هغه ځوان د خپلی د ځوانی په دوره کی د ډیرو کړاوونو سره مخامخ شوی وو خو په ډیر متانت به یی د هغی د حل لپاره سوچ کاوه او په خورابنه ډوګه به یی دحل لارورته پیدا کوله.

کله چی په وطن کی د جهاد غږ پورته شونودی هم د کلی د نورو ځلمیواو تنکیو ځوانانو تر څنګ ودرید او دوطن دخلاصون دپاره یی ملا تینګه وتړله. محمد حسن دیوی اوږدی مودی جهاد څخه وروسته د پاکستان هیواد ته مهاجر شواو د ګندابو په کمپ کښنی یی شپی او ورځی تیرولی .د په ۱۹۸۹ میلادی کال کی د ماین پاکولو کورس ولوست او کله چی دغه کورس پای ته ورسیدنو د ای تی سی د ماین پاکولو موسسی ته یی بلن لیك ورانده کړ چی د ۱۹۹۰ کال د پنځمی میاشتی په پنځمه نیته د ماین پاکوونکی په ډوګه ومنل شو او په څلورم تیم کی د خدمت د پاره وګمارل شو.

محمد حسن د خپل څلورکلن کار په موده کی دخپل ګران هیواد په بیلابیلو ولایتونو ولسوالیو، کلیو او باندوکی د خپلو نورو سر ښندونکو ملګرو په څنګ کی خپله مقدسه ډنده د ماینونو په پاکولو کی سرته رسولی ده. په دی وروستیو وختو کی چی څلورم تیم د څلورمی پروژی په چوکات کښنی دپروان د ولایت د بګرام په ولسوالی کی خدمت کاوه د دسمبر د میاشتی په دریمه نیته د غرمی نه مخکی په نهو بجو او پنځه څلویښتو دقیقو په داسی حال کی یی چه یو ماین د ماین پال په ذریعه د قلعه بلند په کلی کی موندلی وه او غوښتل یی چه مارکر له ورایه پری کیږدی پر هماغه ماین باندی ولوید او ډیر کلك ټپی شو.

په دیره خواشینی سره باید ووایو چی ټپی او په ماین الوتی محمد حسن په هم هغه شیبه ساورکړیوه ځکه چه د پیښنی د کیدو سره سم د تیم تکړه طبی کارکوونکو په بیړه سره ده ته ځان وروورساوه ترڅو عاجلی مرستی ورسره وکړی مګر له بده مرغه محمد حسن نور ژوندی نه وه د شهید محمد حسن په وینو سور او لړلی بدن د پیښنی د ځای نه د پروژی مرکز ته او وروسته له هغی پیښنور ته ولیږدول شوه او د شهید کورنی ته وسپارل شوه.

دده سپیڅلی روح دی ښاد وی.

جدول فعالیت پاکسازی ماین موسسه ATC در سال ١٩٩٤

ATC DEMINING ACTIVITIES IN 1994

PROVINCE ولایات	DEVICES DESTROYED			TOTAL DEVICE مجموعه	AREA CLEARED (SQM)					TOTAL AREA مجموعه ساحه	FRAGMENT پارچه، فلز
	AT ضد تانك	AP ضد پرسونل	UXO مهمات		چراگـــاه GRAZ.L	کشتزار AGRI.L	محلات رهایشی VILLAGE	ســرك ROAD	کانال CANAL		
NANGARHAR	76	174	1651	1901	1218275	778536	45161	114942	24484	2181398	668128
NANG. (BAC)	31	3054	1649	4734	23650873					23650873	814767
PAKTYA	273	2475	561	3309	1371941	1765924	131039	284597	3385	3556886	1167810
PARWAN	11	1814	549	2374	81302	227831	21068	3881	271	334353	1734220
KABUL	10	3122	7242	10374	999983	730622	242536		21491	1994632	1091537
KABUL (BDS)			2214	2214							
GHAZNI	6	750	103	859	223823	735696	5514		63276	1028309	164573
WARDAK	1	84	91	176		124167	15332			139499	40399
LOGAR	9	287	473	769	100373	392091	137671		68389	698524	353063
KAPISSA		28	112	140		16270	10776		26884	53930	179166
LAGHMAN		29	4	33	16205				12529	28734	5175
TOTAL	417	11817	14649	26883	27662775	4771137	609097	403420	220709	33667138	6218838

BAC = Batt Area Cleared (میدان های کار زار پاك شده از ماین)
BDS = Bomb Disposal Service (تیم خنثی سازی بمب ها)
AT = Anti Tank Mine
AP = Anti Personnel Mine
UXO = Unexploded Ordnance

area cleared of mines in the abovesaid localities was 225422 sqm. which included agricultural land, grazing land and canal. During these mine clearance operations 136 mines and UXO of different types were discovered and destroyed.

